www.amnesty.org

## د بښني نړیوال سازمان عامه اعلامیه

د ۲۰۲۳ز کال د مارچ ۳مه ASA 11/6475/2023

# افغانستان: د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا باید د طالبانو معافیت پای ته ورسوي

د ملګرو ملتونو امنیت شورا باید ژر په افغانستان کې یو خپلواک څېړنیز مېکانېزم جوړ کړي، ترڅو وکولی شي له نړیوال قانون سره سم د جنایتونو حقایق او وضعیت ثابت کړي؛ احتمالي سرغړونکي وپېژني او د راتلونکي نړیوال عدالت لپاره شواهد راټول، حفظ او تحلیل کړي. دغه نړیوال څېړنیز مېکانېزم به په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي خبریال مهم ماموریت او د یوناما نظارتي دنده بشپړه کړي.

طالبانو په دوامداره او ښکاره توګه ښودلې چې د خپلو غړو په لاس بشري حقونو څخه د سرغړونو په برخه کې د بې پرې، خپلواکو او اغېزناکو پلټنو نیت نه لري. ځکه خو د دې وخت را رسېدلی چې نړیواله ټولنه د خپلو عامه اعلامیو په تعقیب، عملي ګامونه اوچت کړي. د ۲۰۲۱ز کال د اګسټ میاشتې په ۱۵مه، واک ته له رسېدو راهیسې، د خپلو عامه تعهداتو پر خلاف، طالبانو په سیستماتیکه توګه د ښځو او نجونو حقونه تر پښو لاندې کړي؛ د ملګرو ملتونو ځانګړي خبریال ویلي چې د طالبانو دا کړنه ښایي د انسانیت په وړاندې جنایت وګڼل شي. د بښني نړیوال سازمان د طالب ځواکونو لخوا د هزاره‌وو عاموژنو په باب درې پلټنې کړې او په درېیو واړو حالاتو کې د افغانستان اوسني چارواکي په دې کې پاتې راغلي چې پلټنې وکړي او د دغې پېښې عاملین عدالت ته راوکاږي.

د بشري حقونو سرغړونو د دوامداره وضعیت په سبب، د دغه مېکانېزم جوړول یوه بیړنی موضوع ده. د ۲۰۲۲ز کال په نومبر کې، طالبانو په عام محضر کې دره وهل او په ډسمبر کې یې په عام محضر کې اعدامونه بیا پیل کړل. لکه څنګه چې د طالبانو او د ملي مقاومت جبهې ترمنځ په پنجشیر کې وسلواله نښته روانه ده، د خپلسرو نیونو، توقیفونو، ناقانونه وژنو او نورو سرغړونو راپورونه هم دوام لري.

د بښني نړیوال سازمان د یوه حقیقت موندونکي پلاوي یا د ورته خپلواک څېړنیز مېکانېزم جوړولو وړاندیز کوي چې د پلټنې ځوکلن ماموریت او سرچینې په لاس کې ولري او وکولی شي په ټول هېواد کې د بشري حقونو سرغړونو په باب شواهد راټول او وېې وساتي. د دغه ډول مېکانېزم جوړول اړینه موضوع ده ترڅو د بشري حقونو نړیوال قانون او د بشردوستانه نړیوال قانون ښکاره سرغړونې له ځار څخه پټې پاتې نه شي او د دغو سرغړونو عاملین د نړیوال عدلي/قضایي مېکانېزم له لارې په عادلانه ډول محاکمه شي. دغه پلټنې به د ملګرو ملتونو له غړو هېوادونو سره مرسته وکړي چې د افغانستان د اصلي وضعیت په باب کره معلومات ولري او ناورین ته د ځواب ورکولو، د افغانانو د بشري حقونو خوندي کولو او د لا زیاتو جنایاتو د مخنیوي لپاره غوره پرېکړه وکړي. د حساب ورکولو او مسولیت منلو اوسنی تشه په دغه هېواد کې لا ډېرو سرغړونو او تخلفاتو ته لار هواروي او دا تشه باید ډکه شي.

## د دغه معافیت مخینه

دا مخینه ښکاره ده. په تېرو ۱۸ میاشتو کې چې طالبانو بالفعل د حکومت چارې په لاس کې لري؛ د دې اراده او وړتیا یې نه ده ښودلې چې د خپلو سرتېرو په لاس د ښځو، نجونو او مذهبي او نژادي لږکیو په ګډون، د زیان منونکو کسانو پر وړاندې د بشري حقونو د ښکاره سرغړونو په برخه کې پلټنې وکړي. په افغانستان کې اوسنی وضعیت د اوږدمهاله معافیت دوام دی چې د تېرو څو لسیزو جګړو په بهیر کې، د نړیوال قانون خلاف جنایتونه او د بشري حقونو نورې سرغړونې او ناوړه استفادې شوې، چې په هکله یې د بښني نړیوال سازمان، یوناما او نورو سازمانونو شواهد هم وړاندې کړي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، په ۲۰۲۱ کال کې، وړاندې له دې چې د طالبانو لخوا له منځه یوړل شي، د یوه حقیقت موندونکي پلاوي وړاندیز وکړ چې ماموریت یې د ملګرو ملتونو لخوا تنظیم شوی وي؛ موخه یې یوازې دا وه چې د هدفي وژنو، د هزاره‌وو او نورو لږکیو په وړاندې بریدونو، او د ملکي خلکو، په تیره بیا د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالي په اړه پلټنې وکړي. دغه وړاندیز د بشري حقونو په برخه کې د عالي کمېشینر، ځانګړو پروسیجرونو، په جنیوا کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان سفیر او ملي، سیمه‌ایز او نړیوالو مدني ټولنو سازمانونو لخوا تایید شو او ټولو د دغې موضوع په اړه وضاحت او د نظر توافق درلود.

له بده مرغه، د بشري حقونو شورا لا تر اوسه په دې اړه په عمل کولو کې پاتې راغلې او د شورا په نشتون کې د طالبانو د حاکمیت په ګډون، تر اوسه معافیت دوام لري.

له بده مرغه، د بشري حقونو د شورا لخوا تر اوسه پورې ترسره شوي هڅې د راتلونکي محاکمې لپاره د شواهدو راټولولو لپاره کافي ندي ثابت شوي، او په دې تشه کې د طالبانو په ګډون، معافیت غالب شوی.

د ۲۰۲۱ز کال د اګسټ میاشتي په ۱۹مه، د بښنې نړیوال سازمان د غزني ولایت په مالستان ولسوالۍ کې په موندرخت کلي کې د نهو تنو نارینه هزاره‌وو د وژنې په باب شواهد خپاره کړل. وروسته له هغې چې طالبانو د جولای میاشت په لومړیو کې یاده ولسوالي ونیوله، شپږ تنه نارینه هزاره ووژل شول او درېیو نور د طالب جنګیالیو تر شکنجې لاندې خپل ژوند له لاسه ورکړ. دغه وژنې جنګي جنایت بلل کېدی شي.

هغه وخت طالبانو د دغو تورونو د حل په موخه د بښنې نړیوال سازمان رسمي غوښتنو ته ځواب ور نه کړ او همدا راز تر اوسه پر دې نه دي توانېدلي په دغه برخه کې د باور وړ پلټنې وکړي.

د ۲۰۲۱ز کال د اکتوبر په ۵مه، د بښنې نړیوال سازمان د یوې پېښې په اړه شواهد خپاره کړل چې پکې د اګست په ۳۰مه طالب جنګیالو په دایکندي ولایت کې د یوې ۱۷ کلنې نجلۍ په ګډون ۱۳ تنه هزاره وګړي وژلي وو. د وژل شویو کسانو اکثریت د ملي دفاعی او امنیتي ځواکونو پخواني غړي وو چې طالبانو ته تسلیم شوي وو. دغه وژنې جنګي جنایت بلل کېدی شي.

د اکتوبر په ۱۵مه، د طالبانو کورنیو چارو وزارت دغه راپور یو اړخیز وباله او رد یې کړ؛ خو دغه وزارت تر اوسه په دې نه دی توانېدلی چې په دې هکله پلټنې وکړي.

د ۲۰۲۲ز کال د سپټمبر په ۱۵مه، د بښنې نړیوال سازمان د یوې بلې پېښې په باب شواهد خپاره کړل چې د جون په ۲۶مه په غور ولایت کې طالب جنګیالیو د یوې ۱۲ کلنې نجلۍ په ګډون ۶ تنه هزاره وګړي وژلي وو. دغه ۶ تنه د پخواني حکومت د یوه امنیتي چارواکي پر کور په شپنۍ چاپه کې وژل شوي وو. ۴ تنه نیول شوي او اعدام شوي وو او لږ تر لږه یوه جسد د شکنجې نښې لرلې. صحرایي وژنې ناقانونې دي.

هغه وخت طالبانو اعلان وکړ چې دا یو قانوني نظامي برید و او قربانیان د جګړې په حالت کې وژل شوي. خو هغه شواهد چې د بښنې نړیوال سازمان لاس ته ورغلي، ښیي چې د طالبانو دا ادعا ناسمه ده. د پېښې په باب د خپلواکې او بې پرې پلټنې له غوښتنې سره سره، طالبانو کوم اقدام ونه کړ.

څو چې نړیواله ټولنه یو حقیقت موندونکی او د شواهدو د ساتنو مېکانېزم جوړ نه کړي؛ همدغه نړیواله ټولنه به په دغه معافیت کې د جرم شریکه وي.

## د ښځو او نجونو پر وړاندې سیستماتیک تبعیض

کله چې طالبانو په ۲۰۲۱ز کال کې دغه هېواد تر خپلې ولکې لاندې راوست، ژمنه یې وکړه چې د ښځو او نجونو حقونه به خوندي کوي. خو برعکس، په تېرو ۱۸ میاشتو کې، طالبانو د هغوی حقونه په سیستماتیکه توګه تر پښو لاندې کړي.

لکه څنګه چې د بښنې نړیوال سازمان د ۲۰۲۲ز کال د جولای راپور کې پراخ شواهد خپاره کړل؛ طالبانو ښځې او نجونې د زده‌کړې له حق څخه محرومې کړې؛ یو شمېر اداري لکه د ښځو چارو وزارت او د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یې له منځه وړي؛ له کورني تاوتریخوالي څخه ژغورل شوو ښځو او نجونو لپاره د ساتنې او ملاتړ سیستمونه یې له منځه وړي او د دې لامل ګرځېدلي چې په دغه هېواد کې د ماشومانو، مخکې له وخته او اجباري ودونه زیات شي. هغه ښځې چې د طالبانو لخوا وضعه شوو محدودیتونو پر وړاندې یې سوله‌ایز لاریون کاوه؛ له تاوتریخوالي، ګواښ، خپلسري نیولو، اجباري لادرک کېدو، توقیف او شکنجې سره مخ شوي دي.

د دغه راپور له خپرېدو راهیسې، وضعیت نور هم خراب شوی ده. د ۲۰۲۲ز کال په نومبر کې، طالبانو په خپل سر د بشري حقونو درې نامتو مدافعانې؛ ظریفه یعقوبي، فرحت پوپلزی، حمیرا یوسف او د هغوی همکاراني توقیف کړې. په همدې میاشت کې، طالبانو ښځې له جیم (ورزشي کلبونو) او پارک ته له تګ څخه منع کړې. په ډسمبر کې، طالبانو ښځې پوهنتون ته له تګ څخه تر (ثاني امر پورې) منع کړې چې په عملي توګه اوسمهال ښځې او نجونې ثانوي او عالي زده‌کړو ته لاسرسی نه لري. دغه راز، څو ورځې وروسته، طالبانو امر وکړ چې د ټولو سیمه‌ایزو او بهرنیو ناحکومتي سازمانونو ښځینه کارکوونکې (تر ثاني امر پورې) له کار څخه منعه دي. د ملګرو ملتونو او خیریه موسسو په حواله؛ که دا وروستي بندیزونه ژر لرې نه شي، ملیونونه ښځې او ماشومان به له بشري مرستو محروم شي.

طالبان د ښځو او نجونو اساسي حقونه تر پښو لاندې کوي او له هغوي سره سیستماتیک جنسیتي تبعیض کوي. په ټوله کې د طالبانو پالیسی د ځپلو یو سیستم جوړوي چې په هغه کې کابو د ژوند په هره برخه کې د ښځو او نجونو پر وړاندې تبعیض رامنځته کوي.

## په پنجشیر کې دوامداره جنایتونه

په ۲۰۲۱ز کال کې د کابل له سقوط سره په افغانستان کې جګړه ختمه نه شوه او په پنجشیر کې ملکي خلک لا هم کړېږي. یوې محلي رسنۍ لوی ګواښ پر غاړه اخیستی او د طالب ځواکونو په لاس د بشري حقونو د سرغړونو د سلسلې راپور یې ورکړی. د وسلوالي جګړې د ځای او پېښې پروژې (ACLED) په ډیټابیس کې د ۲۰۲۱ز کال د اګسټ له ۱۵مې راهیسې په پنجشیر کې ۹۱ قضیې چې برمته کول او اجباري لادرکه کېدل پکې شامل دي، ثبت شوي دي. د بښنې نړیوال سازمان د دې خبرې هرکلی کوي چې د ملګرو ملتونو ځانګړي خبریال وکولی شوی د ۲۰۲۲ز کال په اکتوبر کې له پنجشیر څخه لیدنه وکړي؛ د دې تر څنګ دغه سازمان د بشري حقونو د سرغړونو د شواهدو په اړه راپور ته سترګې پر لار دی.

له ملي مقاومت جبهې سره په جګړه کې طالبانو د پنجشیر ملکي خلکو ته سزا ورکړې. د بېلګې په توګه، د بښنې نړیوال سازمان د شواهدو لابراتوار د لږترلږه ۸ قضیو عکسونه او ویډیوګانې راټولې او تایید کړې چې د ۲۰۲۲ز کال د مې او اګسټ میاشتو تر منځ د ټولنیزو رسنیو له لارې خپاره شوي؛ په دغو عکسونو او ویډیوګانو کې ښکاري چې د خلکو لویې ډلې په خپل سر له محکمې پرته نیول شوي دي. دغه ویډیو ګانې ټولټال ۸۷ تنه کسان ښیي چې د ډېرو لاسونه ترشا تړل

شوي او د توقیف په بېلابېلو پړاوونو کې وو؛ یو شمېر یې په لویو باروړونکو موټرو کې د پنجشیر په غرونو کې جوړو شوو ځاینونو ته لېږدول کېږي. په یوه ویډیو کې د طالبانو یو جنګیالی وایي: "که زما په زړه وی، همدلته مې وژل."

یو کس چې له ملي مقاومت جبهې سره د طالبانو تر جګړې وروسته د ملکي خلکو د نیولو شاهد و، له بښنې نړیوال سازمان سره په مرکې کې وایي، "له جګړې وروسته طالبانو کورونه تلاشي کړل؛ خلک یې ونیول او له کورونو څخه یې راوایستل ... نیول شوي کسان د نږدې کلي وو." هغه ادعا وکړه چې ۵۴ نارینه چې ټول ملکیان وو، ونیول شول. د نیولو اړوندې ویډیوګانې لږ تر لږه ۳۸ تنه په توقیف کې ښیي.

یو بل عیني شاهد چې د طالبانو له خوا یې نیولو لیدلي وویل: "هغوی د جومات د لاوډسپیکر له لارې د یوې غونډې اعلان وکړ. کله چې خلک راټول شول، لاسونه یې په خپلو دسمالونو ور وتړل. خلک په قنداغونو ووهل. داسې خلک یې ونیول چې ان یو چاقو هم ورسه نه و. طالبانو یوه میاشت مخکې د هغوی وسلې ټولې کړې وې. دشت ریوات کلی ۵۰ کورونه لري. ټول [راټول شوي کسان] ونیول شول او یوړل شول."

## د خپلواک څېړنیز او د حساب ورکولو مېکانېزم محدوده

د ملګروملتونو هر حقیقت موندونکی مېکانېزم باید دوه له یوبل سره تړلي مسولیتونه ولري: لومړی، د دې وړتیا ولري د راتلونکی نړیوال عدالت لپاره شواهد ټول، حفظ او تحلیل کړی شي؛ دوهم، د یوه څېړنیز او مستند کولو پیاوړی مېکانېزم په توګه کار وکړي.

د سرغړونو جدي، دوامداره او مخ په خرابېدو وضعیت بیړنی پاملرنې ته اړتیا لري او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا لا پخوا د دغه شان یوه مېکانېزم اړتیا اعلان کړې ده. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د اس-۱/۳۱ پرېکړهلیک اتم نافذ پاراګراف او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د ۱/۴۸ پریکړهلیک شپږم پاراګراف په افغانستان کې له نړیوال بشردوستانه او د بشري حقونو قانون څخه د سرغړونې په اړه د پلټنې پر اړتیا ټینګار کوي. یو نړیوال څېړنیز مېکانېزم کولی شي د سرغړونو او تخلفاتو د اړوندو حقایق او حالاتو د ثابتولو له لارې پر حساب ورکولو باندې ځانګړی تمرکز وکړي او د امکان په صورت کې د سرغړونو او تخلفاتو عاملان وپېژني.